

Vlaanderen
is zorg

# سکابیس

د روغتیا او درملنې
اداره

## د خارښت په وړاندې څه کولای شئ؟

یوه اونۍ وروسته له هغه څخه چې د کرم د کارولو په مرسته درملنه پیل شوه، خارښت کیدای شي چه زیات شي ددې لپاره چې مایت (کوچنۍ ژوندی موجود) یو ډول اساسیت ښکاره کوي. کیدای شي چه خارښت تر څلورو اونیو پورې پاتې شي. مرطوب کرم یا د خارښت ضد مواد کته کوي.

کچیرې خارښت پاتې شي، د زخم حالت بد شي یا نوی زخمونه پیدا شي بیا لازمه ده چې خپل ډاکټر ته مراجعه وکړئ. ستاسو ډاکټر کولای شي چې تصمیم ونیسي چې درملنه تکرار کړي او که نه.

## آیا پوښتنه لرئ؟

**تاسو کولای شئ چې خپل ډاکټر ته مراجعه وکړئ یا د روغتیا او درملنې اداري سره په خپل ولایت کې اړیکې ونیسئ:**

- infectieziektebestrijding.antwerpen@vlaanderen.be
  یا 03 224 62 06
- infectieziektebestrijding.limburg@vlaanderen.be
  یا 011 74 22 42
- infectieziektebestrijding.oostvlaanderen@vlaanderen.be
  یا 09 276 13 70
- infectieziektebestrijding.vlaamsbrabant@vlaanderen.be
  یا 016 66 63 53
- infectieziektebestrijding.westvlaanderen@vlaanderen.be
  یا 050 24 79 15

Uit het Nederlands vertaalde folder die ook in het Nederlands te verkrijgen is via bovenstaande contactgegevens.

11/2019 – د روغتیا او درملنې اداري، خپره شوی لخوا الف دیو دیرک

Agency for Care and Health
Koning Albert II-laan 35 box 33
1030 BRUSSELS
**www.zorg-en-gezondheid.be**



## څنګه باید کرم وکاروئ؟

- د خپل ټول ځان وړباندې غوړ کړئ، د مخ له اړوکو څخه تر پښو تلو پورې. پام وکړئ چې د نوکانو لاندې، د پوتکی چینونه او د ګوتو منځونه غوړ شي.
- هغه ماشومان چې عمر یې د 2 میاشتو څخه تر 2 کاله پورې ووسي لازمه ده چې سر او مخ یې هم غوړ شي (د خوله او د سترګو د شا او خوا د غوړولو څخه ډډه وکړئ البته کچیرې په هغو برخو کې زخم نه وي).
- د یو بل کس څخه وغواړئ چې ستاسو شا غوړه کړي.
- کرم تر 12 ساعتونو پورې زمونږ په ځان کې پاتې کیږي.
- وروسته له هغه څخه کرم د ماشومانو لپاره وکارول شو، جورابې یا دستکشې ورته په لاس کړئ ترڅو هغوی په خولې کې لاس ونه وهي.
- هر ځل چې تاسو خپل لاسونه مینځئ بیا کرم وکاروئ.
- د عورت یا شرم ځای سیمه او د کوناتیو منځ هر ځل وروسته له هغه څخه چې د اودس ماتی لپاره تشناب ته ځئ بیا غوړ کړئ.

کله چې تاسو د کوم کس سره د ځان په غوړولو کې مرسته کوئ، کالی په کڅوړې کې اچوئ یا د بړستني پوښ او روجای ورته بدلوئ، لازمه ده چې پیشبند و تړئ او پلاستکي یو ځل مصرفه دستکشې وکاروئ.

## د کرم د کارولو څخه وروسته څه باید وکړئ؟

- پاک کالي واغوندئ او د خپل د بړستنې پوښ او روجای بدل کړئ.
- وروسته له 12 ساعتونه څخه ځان ومینځئ و بیا هم پاک کالي واغوندئ. هغه کالیو سره چې تاسو اغوستلي دي د نظافت د لاربښودنې سره سم چې په دې مالوماتي پاڼې کې لیکل شوی دي چلند وکړئ.
- کچیرې تاسو د شپې لخوا د درملنې څخه کار واخلئ بیا لازمه ده چې د خپل د بړستني پوښ او روجای سهار بیا بدل کړئ.

سکابیس د پوټکي ساري حالت ته وايي چې د سکابیس مایت (کوچنۍ ژوندي موجودات) لخوا منځته راځي. سکابیس مایت (کوچنۍ ژوندي موجودات) د غنې په شکل واړه کوچني موجودات دي چې په عادي سترګو نه لیدل کیږي. دا موجودات د پوټکي په قشر کې خپل ځان ته یو ډول صوف جوړي او هلته هګۍ کوي. ډیرې وخت دا صوفون واضیح نه دي، علایم یې د پوټکي خارښت او سره تکي وي. دا حالت سبب ددې ګرځي چې تشخیص ډیر زیات وځنډیږي. ډیره مهمه علامه یې خارښت ده چې د ۲ الی ۶ اونیو وروسته له ځای په ځای کیدلو ځانته وده ورکوي او د شپې لخوا معمولاً ډیر زیات وي.

## څنګه کیدای شي چې تاسو مصاب شئ؟

په معمولي سکابیس کیدای شي تاسو هغه مهال اخته شئ چې (د 15 دقیقو یا زیات وخت لپاره) یا په پرله پسې توګه د یو کس سره زیات ځانې تماس ولرئ چې هغه په سکابیس اخته وي. په دې تماس کې مطلب جسمي ساتنه د یو کس، جنسي اړیکي یا د بل کس د خوب د تخت څخه کار اخیستل او د بل کس کالي اغوستل شامل دي.

همداشان یو بل ډول عفوني سکابیس هم شتون لري چې هغې ته (سکابیس کروستوزا) وايي، چې وروسته له یوې لنډې اړیکې څخه سبب د عفونت ګرځي.



## ستاسو کوم ځای ژوبل یا زخم شوی دی؟

د سکابیس مایت (کوچنۍ ژوندي موجودات) ډیر تمایل لري چې د ګوتو په منځ کې، د لاسونو په بندونو کې، څنګلو کې، په تخرګونو کې، د کوناټیو په منځ کې، په ورنونو کې، د نامه په شا او خوا کې، په پښو کې او په تناسلي آلې کې ځان ځای په ځای کړي.



## د سکابیس درملنه څنګه کیږي؟

سکابیس په طبعي توګه نه ښه کیږي، مګر امکان لري چې درملنه یې وشي. درملنه په دې معنا ده چې ټول ځان په یو ډول کرم غوړ شي چې د سکابیس په ضد دی او دېې په څنګ کې یو شمیر نظافتي تدابیر په نظر کې ونیول شي.

په بلژیک کې معمولاً د یو ډول کرم څخه چې د پرمترین څخه جوړ شوی دی کار اخیستل کیږي. یواځې د ډاکټر د نسخې په مرسته کولای شئ چه دا کرم لاسته راوړئ. معمولاً یو 1 درملنه کفایت کوي. کچیرې لازمه وي او د لمړنۍ درملنې د سر ته رسولو په وړاندې شک موجود وي بیا کیدای شي درملنه وروسته له یوې اونۍ تکرار شي.

لازمه ده چې ټول کسان چې په یو کور کې ژوند کوي په یو وخت درملنه شي او ټول کسان نظافتي تدابیر مراعات کړي، حتی که د خارښت علایم ونلري.

## د نظافت معیار

مخکې له هغه څخه چې د کرم څخه کار واخلئ د نظافت دا معیار ولولئ:

- د خپل د خوب د ځای روجای او د برستني پوښ او ټول کالي چې تاسو 3 ورځې مخکې له درملنې څخه کارولي دي په 60 درجې کې ومینځئ.
- هغه کالي چې په دې درجه د مینځلو امکان یې نشته، لکه خرسک، بوټونه او څپلکې په یوې پلاستیکي کڅوړې کې واچوئ او خوله یې کلکه بنده کړئ. کڅوړه تر 3 ورځو پورې مه خلاص وئ او درجه د حرارت د کوټې د حرارت درجې په اندازه وساتئ.
- د معمولي سکابیس لپاره پاک کول لازم نه ده. کله نا کله لازمه ده چې د تکي کوچ او قالینې جارو شي (د بیلګې په توګه کله ستاسو زخمونه زیات وي او د سکابیس دوره بیا په تاسو راغلې وي).
- کچیرې تاسو په داسې یوې توشکي باندې څملئ چې پوښ ولري بیا د 3 ورځو لپاره توشکي ته د کوټې د حرارت د درجې په اندازه هوا ورکړئ او بیا یې ښه جارو کړئ.

## د کرم کارول

### مخکې د کرم د کارولو څخه څه باید وکړئ؟

- د خپل د لاسونو نوکان ښه لنډ کړئ او د نوکانو لاندې پاک کړئ.
- ګاڼه او ګړۍ اوباسئ.